مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۳/۰۸/۲۵

# مرغان دې راشي

## زموږ لپو کې دې ځالې وکړي

وخت به راځي چي غاښ د زهرو به ښامار نه لري
منصور به ګرځي مستانه ملا به دار نه لري

مرغان دې راشي زموږ لپو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري کلی مو چینار نه لري

مېنې ګیله په غریو نیولي انداز داسی وکړه
خلک په خپلو کارو بوخت دي په ما کار نه لري

خپل تارونه یې سندروته زندی جوړیږي
کوم یو رباب چي مطرب نه لري شاتار نه لري

ښنو ته خند ورکړه چي خلک په رڼا پسی مري
د کلي لمر تندر نیولی دی سهار نه لري

راشه ښاروان یې شه ، کاروان یې کړه د ذوق لیونی
په غرنو سر دی دسندرو ښار ته لار نه لري

پیرمحمد کاروان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ